NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# د افغانستان ټاکنو په هکله نوي معلومات


د لازياتو معلوماتو لپاره

اندی.ام.ا کمبیل: مملکتي رئيس

+93 (0) 79 813 7023

acampbell@ndi.org


**د ولسي جرګې ټاکني په ۱۸ د سيپتمبر د ۲۰۱۰ روان**

**د سپتمبر ۱۶ نیټه ۲۰۱۰ کال: ۲ ورځي ټاکنو ته**

ملي ديموکراتيک انستيتيوت د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي دټاکنو د پروسه او د څارني دندي په غاړه لري. چه اړوندی دندي به دی ټاکنو تر مخه، پرمهال او د ټاکنو څخه وروسته تر سره رکيږی. د څارني او اړوندو دندو لپاره ۱۴۰ نړيوال او افغاني څارونکي په ټول هيواداد کښی په خپلو دندو بوخت دي. د لازياتو معلوماتو لپاره زموږ بريښنا ليک دی. AfghanistanElectionData.org. NDI.org

## د ټاکنو مقامات غواړی درای شميرلی پروسه غښتلی کړی
## د ټاکنو د کارکوونکو او ولایتی مسولینوبدلون موخه د ددرغليو مخ نيوی دی

وروسته تر دی چی د ۲۰۰۹ کال ټاکنی په پراخه درغليو سره ترسره شوی وی د ټاکنو خپلواک کميسون يوځل بيا د تيرو درغليو د مخنيوی لپاره غوره تدابير نيولی دی. د ټاکنو خپلواک کميسون د هغو کسانو لری کولو په هڅه کښی دی چی په تير کال په درغليو کښی شامل وو په دی توګه غواړی چی د رای اچونی پروسه تقويه کړی. د مخه تردی چی د انتخاباتو وروستنی نتيجی اعلان شی د انتخاباتی شکايتونو کميسون دنده لری چی د وررسيدلو شکايتونو ځيړنی وکړی. د دواړو کميسونونو ( د انتخاباتی شکاياتو کميسون اودټاکنو خپلواک کميسون ) دنده ده چی د تقلب څخه د راولاړی شويو انديښنو په هکله چی يو مياشت مخکی رامنځ ته شوی وی ځوابونه وواييددغو ځوابونوپه دوام کی د انتخاباتو خپلواک کميسون لمړی ګام دا وو چی په تيرو ( ولس مشری او ولايتی شوراګانو ) انتخاباتو کښی د کميسون ۱۶۴۰۰۰۰ انتخاباتی کارکوونکو څخه ۶۰۰۰ تنه يی په تور لست کی داخل او له دندو ګوښه کړل

وروسته ددی چی د شکاياتو کميسون ددغه خلکو د ناوړه چلند ځيړنه وکړه نو د ټاکنو کميسون دغه لست اعلان کړ. روان کال ځينی کارکوونکی له دی امله ددندی څخه ګوښه کړل چی په کميسون کښی ددندی درلودلو له امله يی د غلطو نومونو نه استفاده کړی وه. وروسته له دی چی د ولسوالی ساحوی ناظمين په مختلفو درغليو کښی لکه د ځينو کانديدانو سره په اړيکو درلودلو تورن شول تراوسه پوری ۱۱۴ناظمين لدی جملی څخه ددندو ګوښه کړای شوی او ۱۰۰ کسه يی نورو ځاينو ته تبد يل کړای شول.

د انتخاباتو خپلواک کميسون ۵ کسه د ټاکنو ولايتی مسولين وزارت عدلی ته د تحقيق لپاره معرفی کړی دی . دا خلک د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کښی په ناوړه عملونو تورن دی. او همدا رنګه د ننګرهار ولايتی مسول د بډو په خوړولو تورن وو منلی يی ده او به حبس محکوم شو.

په دی لړ کی ټول ۳۴ د ټاکنو ولايتی مسولين د خپلو ولايتوڅخه نورو ولايتونو ته استول شوی چی دوی د خپل محلی ملاتړ او غير قانونی قوت څخه لری وساتل شی او خپلی دندی په ښه توګه ترسره کړی. د ټاکنو يو لوړ رتبه مامور د وينا مطابق دغه پروسه به ۳۰۰۰۰ دالر مصرف ولری.

د ټاکنو کميسون دا وخت ددی توان نلری چی د درغليو د لاملونو ځيړنی وکړی خو داسی قوانين او مقررات يی وضع کړی چی عدلی چاروکی دغه خلک په اسانی سره پيژندلی شی. په دی لړ کی د يو مهم ديتابيس جوړول دی چی ولايتی مسولينو اود رای اچونی کار کوونکو ولسوالی ساحوی ناظمينو عکسونه ، تذکرو کاپيانی او قرارداد خطونه ثبت او راجستر دی.

د ټاکنو کميسون د کارونو منسجم کولو د پاره هڅه او تقاضا هم کولی شی. آن تردی چی ۵۰۰۰۰۰ افغانی چی معادل ۱۰۰۰۰ دالر کيږی د جرمانی وضع کولو صلاحيت هم لری.

کميسون د دوهم ځلی رای شميرلو د ، کانديد دلری کولو، او يا هم هغه کارکوونکی چی په د رغليو کښی ککړ دی د تور لست په شاميلولو سره چی تر ۱۰ کالو پوری په هيڅ يو کميسون کښی دنده نشی تر سره کولی شاميلولی شی.

که کوم کانديد يا کومه سياسی ډله او يا هم ددی سياسی ډلی کوم عضو د ټاکنو د قوانينو څخه سرغړونه وکړه کميسون ددی ډلی يا کانديد د محروومولو صلاحيت لری.

کميسون کولای شی چی کوم مورد يا موضوع چی د عدلی او جنای چاروکو پوری اړه ولری هغو سره په تماس کښی شی. تراوسه پوری کميسون يو والی چی نوم يی ځرګند ندی اړونده مراجعو ته معرفی کړی او يو شاروال يی هم په انتخاباتو کښی په غير قانونی ډول مداخله کولو له امله په ۲۵۰۰ دالره جريمه کړی دی.

## ټاکنيز شکايت کميسيون په مقرراتو کې کليدي بدلون (تعديلات)

هغه قوانين چی د شکاياتو د کميسون لخوا به ۲۰۱۰ کال کښی جوړ شوی وو د NDIلخوا بيا کتنه وشوه اود ۲۰۰۹ کال د ټاکنو سره فعاله شول هغه مهم بدلونونه چی د ۲۰۱۰ کال د شکاياتو د کميسون د قانون په اړوند راغلی دی په لاندی ډول دی.

د ټاکنو شکايت کميسون جوړښت او د نصاب حد:_ د جمهور ريس د فرمان سره سم سږ کال د خارجی استازو کميدل د دريو څخه دوو ته او په مجموع کښی ۵ واړه کمشنران به د جمهور ريس لخوا ټاکل کيږی.

د ۲۰۰۹ کال قانون مطابق حد نصاب ۳ يا زيات دی چی بايد يو ی حد اقل افغان وګړی وی. خو د ۲۰۱۰ کال قانون کښی د کمشنرانو ميلت ندی څرګند شوی.

<u>قانوني واک</u>: د ۲۰۱۰ قانون داسی بيانيږی چی په اول کی د شکايتو قانونی واک د ولايتی شکاياتود کميسون سره دی او بيا ددوی فيصلی به د شکاياتو کميسون ته د دوی د خواست مطابق وی.

سره ددی چی لاندنی اصلاح رسمآ نده اعلان شوی، هغه دا چی د شکاياتو مرکزی کميسون دی ته اړ ندی تر څو د ولايتی شکاياتو د ټولو فيصلو کتنه وکړی. او اړونده موضوع چی د ولايتی شکاياتو کميسون مربوط ده د ۲۰۱۰ کال قانون کښی نشته.

**<u>بی تعصبی – بی طرفی:</u>** د ا مسله په دواړواسنادوکښی ذکر شوی چی د اجراتو لپاره به د کمشنرانوامضا ضروری وی. خو د بی طرفی هغه ځانګړی موضوع د ۲۰۱۰ کال په قانون کښی لری شوی.

د ۲۰۰۹ کال قانون ۲۶ ماده داسی وای چی کمشنران بايد خپلی دندی په وخت ، معقول، بی طرفی او غير سياسی رويه او طرز باندی اجراکړی چی دا ماده لری شوی ده.

<u>همکاری او معلوماتو ته لاس رسي:</u> د ۲۰۰۹ قانون ۲.۱۵ ماده دا څرګندوی چی د سياسی ګوندونو، نوماندو، ناظرينو د نوماندو او ګوندونو استازو او ټاکنو د خپلواک کميسون سکرتريت دنده به داوی چی ټاکنوخپلواک کميسون سره به ددوی په کارونو کی مرسته کوی.

د ۲۰۱۰ کال قانون همدغی مادی ته داسی اشاره کوی:

# د ټاکنو شکایت کمیسیون د اصلو بدلون ته کتنه( د لومړي پاڼي پاتې برخه)

دادشکایاتو د کمیسون دنده ده چی دنورو ګوندونوهمکاری ځانته جلب کړی، نور ګوندونه دی ته اړنه دی لکه څنکه چی د ۲۰۱۰ کال په قانون کی داسی ذکرشویدی:

د شکایاتو ولایتی او د شکایاتوکمیسون دی مجبوردی ترڅو دټاکنو د خپلواکی کمیسون د همکاری د راجلبولو د پاره کوښښ اوزیاراوباسی.

**د ۲۰۰۹ کال د طرزالعمل فقریی حکم د ناسمو معلوماتو په اړه د ۲۰۱۰ کال د طرزالعمل څخه حذف شوی ده. د ۲۰۰۹ کال د طرزالعمل ۳.۵ ماده بیانوي چې. د ولایت او یا د ټاکنو شکایت کمیسینو ته د ناسمه معلوماتو ورکول د ټاکنیز قوانینو څخه سرغړونه بلل کیږي. کیدئشي چې د ولایت شکایت کمیسیون او یا د ټاکنو د شکایت د کمیسیون لخوا لامل کونکي مجازات شي. د ۲۰۱۰ کال د طرزالعمل څخه د ا فقره حذف شوی ده. حال دا چې د ناسمو معلوماتو تیارول د ټاکنو قانون په رڼا کې جرم ده. په ۲۰۰۹ کال کې ۴ تنه د ناسمو معلوماتو د ورکولو په خاطر جریمه شول.**

## سری توب (محرمیت):

ددی څخه د مخه چی باید بعضی قوانین د ۲۰۱۰ قانون چی د سری توب په اړوند وو پاتی شی ، هغه یا هم بدل یا په مکمله توګه لری شول.

د مثال په توګه د ۲۰۰۹ کال قانون کی یوه ماده داسی ذکر شوی چی دا ماده هم لری کړای شوی او هغه داسی ده: هیڅ یوه قانونی چارواکی ددی حق نه لری چی د ټاکنو خپلواک کمیسون دی ته اړ باسی تر څو بعضی محرم ا سناد راڅرګند کړی مګر دا چی د څآرنوالی له خوا کوم رسمی مکتوب ولری.

**د توکو ځنډول**

د ۲۰۰۹ کال طرز العمل په فقری کې راغلي: کچیرې د ټاکني خپلواک کمیسیون او یا د ولایت د شکایت کمیسیون د توکو لیږدول و ځنډوي نو د ټاکنو د قانون څخه سرغړونه ده. چي دا فقره هم د ۲۰۱۰ کال په طرز العمل کې حذف شوې ده. د ۲۰۰۹ کال د طرزالعمل په یو متن کې راغلي د توکو د حد څخه زات ځنډول د ټاکنیز په توکو کې مداخله بلل کیږي او امکان لري چي ږ ټاکنو سپکاوي ته هم لمن و وهي. دا هم د ۲۰۱۰ کال په طرزالعمل کي نشته.داسې ۲ ورته د ۲۰۰۹ کال په طرزالعمل کې دي چي دواړه حذف شوي دي.

## په یوه وخت کی د کمشنرانو دنده:

هغه ماده چی کمشنران په یو وخت کی ددوه دندو لرلو حق نلری د ۲۰۱۰ کال قانون څخه لری شوی ده چی په هغه قانون کی داسی راغلی دی: کمشنران باید ۱- پوره کاری وخت دنده سرته ورسوی۲-او هغه فعالیتونه چی د شکایاتو کمیسون پروسی ته زیان رسوی پریښودل شی. چی دا ماده اوس محال د ۲۰۱۰ کال قانون څخه لری شوی ده.

## ناغه (جریمه):

د جریمی اعظمی حد دشکایاتود کمیسون لخوا د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو ( ۲۰۰۰) امریکای دالرو نه ۵۰۰۰۰ افغانیو ته چی ۱۰۰۰۰ امریکای دالر کیږی لوړ شو.

## د NDI د څارنی د پروسی مهم ټکی:

د ټاکنو خپلواک کمیسون د هرات ولایت۱۲ کسه هغه د ولسوالیوساحوی ناظمین د دندوګوښه کړل کومو چی د بعضو کاندیدانو سره نژدی اړیکی لرلی.

په دی وروستیو کی د شکایاتو ولایتی کمیسون د ۱۵ کسو ولسوالی نظمینو په اړوند تر لاسه کړل،څارنی وروسته دا څرګنده شوه چی دا ادعاوی صحیح وی، وروسته له دی ناظیمینو ته ددی موندونو اړوند رسمی مکتوب ولیږل شو تر څوخپلی ولسوالی پریږدی چی په دی کښي ۳ کسانو دا فرمان منلی او ۱۲ نورو یی دنده پریښوده.

کمیسون داسی نور شکایت هم ترلاسه کړی چی قومی مشران خلکوته د پیسوورکولو وعدی ورکوی ترڅو د هغوی د ټاکنو کارتونه ترلاسه کړی. ځینو خلکو د تیلفون له لاری کمیسون ته شکایت کړی اوځینو رسمی شکایت درج کړی دی، چی د شکایاتو کمیسون یی پلټنه کوی.

د هرات په ولایت کی د کمپاین غښتلی مبارزی جریان لری،خو په ځینومهمو ولسوالیو کی دغه مبارزی نه ترسترګو کیږی.دNDI د ناظرینو سره په مرکه کی ډیرو کاندیدانو دا په ګوته کړی دی چی د امنیت د نشتوالی له امله نشی کولی خپل کمپاین په پراخه توګه نورو ولسوالیو او ځاینو ته وغزه وی. ځینی نوماند بیا داسی وایی چی د کمپاین مهم اړخ د نفوس تراکم جوړوی، او دوګړو۲۵٪نفوس په مرکز کی دی، نودوی خپل کمپاین مراکزو پوری مختص کړی دی.زیات شمیرکاندیدان په ټولنه کی پیژندل شوی څیری دی اویا هم د موسسو مشران، چی دوی خپلی ټولی شبکی د کمپاین د پاره استعمالوی.اوځینی نوریی هم د تجارانو ډله ده.

مهم خبر: د معلولینو ټولنی لاس رسی:

زیاتی کړنلاری چی د معلولینود خوندی کیدو په اړوند وی پری څای پاتی شوی، ددوی داړتیاوو په اړه د تیرو ۵ کلونو د ولسی جرګی د انتخاباتو څخه سره سم خبری اتری روانی دی. د ۲۰۰۵ کال ولسی جرګی د ټاکنو په بهیر کي یوه کوربه ډله موجوده وه چی معلولین به یی د ټاکنو په برخه اخیستو کی هڅول. روان کال هم داسی یو موضوع روانه ده خو د مرستندویه ادرو ځانګړی تدابیر نه تر سترګو کیږی.

د هاتدکیپ بین المللی اداری لخوا چی کومه احصایه خپره شوی ده داسی په ګوته کیږی چی د ۲۵۳۶ کاندیدانو د جملی څخه ۳ یی معلولین دی، چی د معلولینو شمیر په عمومی ډول ټول هیواد کی ۸۴۰۰۰۰ ته رسیږی.

د ټاکنو د هم اهنګی اداری د ۲۰۰۵ کال په جریان کی یوه کړنلاره غوره کړه چی باید د معلولینو سره د ټاکنو په بهیر کی ځانګری مرستی وشی چی ددی مقرری له مخی معلولین کولای شی چی د انتخاباتو په بهیر کی ۵٪ د مامورینو د مجموعی څخه د مامورینو په حیث ونډه واخلی. نوموړی اداره رپوټ ورکوی چی که پدی بهیر کی ۸۰۰۰ معلولین مقرر شی نو ددوی دا سهمیه به پوره کړای شی، خو د ټاکنو خپلواک کمیسون پدی اړوند کوم خاص تدابیر نه دی نیولی.

د معلولینوسره د ټاکنود عامه پوهاوی په اړوند د مرستی په موخه په ۲۰۰۵ کال کی یوغښتلی پروګرام پر مخ اچول شوی وو.د معلولینو دکاندید اود ټاکنو د هماهنګی د داداری د کارکونکی د خولی سږکال نه هم کوم داسی پروګرام وو او نه هم د چا خوا کوم تشویق شو.

د ۲۰۰۹ کال ټاکنو په څیر، معلولوینوته به لاندی حقوق ورکړل شی:۱-قطارکی د اولیت حق ۲-د رای د استعمال وخت کی ورسره دبل چادطرفه مرسته کول، ددرغلیو د مخ نیوی لپاره صرف یو کس د معلولینو سره دا مرسته کولی شی، او یا هم د مرکز مسول دادنده تر سره رسولی شی.

ملي دموکراتیک انستیتوت یو ناپیلی، غیرحزبی او غیر حکومتی سازمان دی چي په افغانستان کي له ۲۰۰۲ کال څخه راپدې خوا فعالیت کوي . عمده موخه یې د د موکراتیکو نهادونو څخه ملاتړ او دهغو د پیاوړتیا په برخه کې هڅې دي ترڅو دغه باور د خلکو د برخې اخیستنې او په حکومت کې د شفافیت او حسابدهی له لارې غښتلې کړي. د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې انستیتوت۱۷۰۰ نوماندانو ته معلوماتی سیمینارونه په لار واچول. دغه راز سیاسی ګوندونو ته او ۲۴۰ ښځینه کاندیدانو ته یې هم کتور ورکشاپونه ترسره کړي دی. انستیتوت یو لړ تخنیکی مرستې یې له FEFAسره کوم چې په افغانستان کې تر ټولو ستر کورنی ټاکنیز څارونکي نهاد دي، هم ترسره کړي. اوس مهال انستیتوت د کاندیدانو د استازو لپاره روزنیز ورکشاپونه په لاراچولی تر څو د هغوی ظرفیتونه د ټاکنو څخه د ښه څارنې او نظارت لپاره تیار کړي.